نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۸/۱۱

# د طالبانو لپاره سخت ازمایښت؛ د پنجاب چورلکه

د بریتانیا، امریکا، پاکستان ګډ پلان داوو چې نور باید طالبان په هر ډول چې وي داسي بدنام او ختم شي لکه چې مجاهدین یي د کابل تر نیولو وروسته په خپلو منځو کي سره وجنګول او بالاخره د طالبانو لخوا پسي واخیستل شول. دهمدې موخي لپاره ویل کیږي چې د داعش په نوم ( افغان-پاکستان داعش) د امریکا او بریتانیا په مټ باید د پاکستان لخوا دا پروژه عملي شي او افغان حکومت به یي پوره ملاتړ کوي.

## د طالبانو ځای نیونکی افغان داعش

نږدې دوه نیم کلونه مخکې همدا خبري کیدي او ویل کیدل چې نور به طالبان هم دا ډول له منځه ولاړ شي چې بیا به دا نوم بدنام او خلک به نفرت ورڅخه ولري.
پاکستان خپله ټوله هڅه وکړه، په وزیرستان کي عملیات شروع شول، ازبک، چیچن او د چین یغور غیر اګاهانه وهڅول شول او یا مجبوره شول چې د افغانستان شمال ته ځانونه ورسوي.
طالبان چې د همدې پروګرام اړوند وار له مخي متوجه وو، د طالبانو مشر ملااخترمحمد منصور له پوره زړورتیا څخه کار واخیست او په شمال کي یي دهمدې کسانو مخه ونیوله. چې همدا کار ددې سبب شو چې چین او روسانو هم له طالبانو سره د لازیاتو ښو اړیکو لیوالتیا وښودله، ځکه چین ، روسیه او په ټوله کي منځنۍ اسیا هیوادونه پوهیدل چې همدا بهرني جنګیالي ددوی د ګټو او تهدید لپاره همدې سیمې ته په لوی لاس وروستل شوي.
ددې لپاره چې افغان حکومت باندې چین او د منځنۍ اسیا هیوادونه ډیر شک ونه کړي، همهغه وو چې د یغور او منځنۍ اسیا ځیني بندیان چې له افغان حکومت سره وو، هغه یي خپلو هیوادونو ته وسپارل، البته دغه خلک د بهرنیانو او افغان حکومت سره په جګړو او یا هم ځینو سیمو کي نیول شوې وو.
په افغانستان کي اسلامپال بهرني جنګیالي بیاځل په غیر مستقیم ډول وهڅول شول چې هغوی د داعش تر بیرغ لاندې له داعش سره د یوځای کیدو اعلان وکړي، همهغه وو چې دا کار یي وکړ، او مرکزیت هم ورته د زابل ولایت د خاک افغان ولسوالی وټاکل شوه، ملادادالله منصور همدې سیمې ته راغی او اعلان یي وکړ چې د پاکستان سره د دښمني لپاره همدې سیمې ته راغلی، ولي ویل کیږي چې ممکن هغه هم په غیر مستقیم ډول همدې سیمې ته د پاکستان لخوا موخو ته رسیدو لپاره زابل ته راغلی وي، کله چې ملادادالله منصور خاک افغان ته راغي، بهرني اسلامپال جنګیالي هم همدې سیمې ته له خپلو کورنیو سره راغلل او د ملادادالله منصور په څنګ کي ودریدل.
شواهد شته چې ملادادالله اخوند غوښتل چې اعلان وکړي چې د داعش تر بیرغ لاندې کار کوي، ولي د هغه د قوم ځینو پخوانیو طالب مشرانو مشوره ورکړه چې داکار به ده ته ډیر زیان وکړي، که د داعش سره ملګری هم وي ، اعلان دي نه کوي.
د طالبانو او ملا دادالله ترمنځ جګړې وشوې، او بهرني اسلامپال چې د داعش په نوم په زابل کي له ملادادالله سره یوځای وو، چې ډیری یي ازبک وو، تر ډیره همدا کسان ووژل شول، خو په سلګونو نور بیا ژوندي ونیول شول.
د ځینو طالب او افغان سیاستوالو سره همدا سوال تر اوسه هم شته چې هغه ژوندي بهرني اسلامپال چې طالبانو په خاک افغان کي ونیول هغه څه شول؟ ورسره بندیان دي، ووژل شول او یا خو کوم چاته وسپارل شول؟؟؟

## طالبان او د پنجاب چورلکه

طالبان ددې پرځای چې د افغان داعش په فعالیت کولو سره کمزوري شي لا پسي پیاوړي شول. د پاکستان د ملکي او پوځي حکومت ترمنځ هم ستونزې پیداشوې، ملکي حکومت د افغانستان مسئله د سولییز حل طرفداره وو، د افغان مهاجرو سره د بد چلند پلوي نه وو، او پوځي حکومت د افغانستان مسئلي د پوځي حل او یا داچې طالبان وځپل شي اوپه زور مجبوره شي چې له افغان حکومت سره یوځای شي، دا ډول افغان مهاجر له پاکستان څخه په زوره وشړل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د پاکستان پوځي حکومت د سولي او يا داچي طالبان به وځپي، فشار  به پري راوړي، له افغان حکومت څخه د ډيورنډ پرليکه امتيازات ترلاسه کړل، وروستی امتياز يې د تورخم دروازه او تاسيسات وو، همدا وو چې د افغان ولس له خوا پر افغان حکومت ډيرې توندې نيوکې کيدې او کيږي چې له پاکستان سره معامله کوي.
داچي ولي د پنجاب چورلکه د طالبانو سيمي ته وروستل شوه، لاندې څو مهم ټکي دي چې غور پري کيدای شي.
۱ - ډيری په دې نظر دې چې په دي لوبه کې امريکا، پاکستان او افغان حکومت شريک دي. د دوی په خوښه داکار شوی. ترڅو د پاکستان د ملکي حکومت او طالبانو ترمنځ اړيکي نور ي هم خرابي شي او د پاکستان ملکي حکومت هم د پوځي حکومت د پلان ملاتړ وکړي، پر طالبانو او افغان مهاجرو فشار زيات شي.
۲ – داچي څو مياشتي مخکي د طالبانو سره د امريکايي بندي ميرمني او بندي کاناډايي پر سر د پاکستان مذاکرات طالبانو د قطر دفتر سره پيل شول، طالبانو د ملابرادراخوند د ورسپارلو غوښتنه کوله، پاکستان ونه منله، له دي سره سره د انس حقاني، حافظ رشيد او حاجي مالي خان د خوشي کيدو غوښتنه هم وه،  ددې لپاره چې پاکستان د ملابرادر اخوند خوشي کيدل ومني دا لوبه به د امريکا په خوښه شوې وي.
۳ – داچي تيرو وختونو کي دغه او ديته ورته سياسي معاملي د طالبانو د قطر دفتر  لخوا کيدلي، د ترکانو او روسي پيلوټ خوشي کيدل، د امريکايي بوبريګډال تبادله او داسي نوري پيبني، داخل به د طالبانو د قطر دفتر رول پکي پيکه وي، طالبان به په سيمييز ډول داموضوع حل کړي او يا خو به د ډيورنډ کرښي هاخوا طالب مشران پريکړه کوي، لدي به بيا نړيوال ، پاکستان او افغان حکومت داکټه پورته کوي چې د طالبانو د قطر دفتر صلاحيت نه لري.
هغه خلک چې د پاکستان فشار ته تر دي دمه نه دي تسليم شوي او په څلور اړخيزو ناستو کې د ګډون لپاره يې د پاکستان غوښتنو ته،  نه ويلي دي.
ويل کيږي چې د پاکستان وړانديز داوو چې دا موضوع پټه شي او په پټه ډير ژر ۶ پاکستاني بنديان بيرته ورته وسپاري خو طالبانو له دي کار څخه ډډه کړي.
۴ - داچي پاکستاني جنرالان له امريکايانو سره مسلسلي ناستي لري،  ډير وختونه افغان حکومت خبر نه وي، هوايي فضاء د امريکايانو لخوا څارل کيږي، ټول معلومات له افغان حکومت سره امريکايان نه شريکوي، ممکن د امريکايانو سره تر ناستي وروسته به په ازره کي د داعش په نوم کسانو ته د پاکستاني جنرالانو په واسطه پيسي، ټليفونونه، د افغان پوځ يونفيورمونه او ستلايټ رسول کيدل، چي په ازره کي چورلکه د طالبانو تر بريد لاندي راځي او ناستي ته مجبوره کيږي.
افغان حکومت اوسمهال هڅه کوي چې د پنجاب چورلکه او پکي نيول شوی کسان ملکي معرفي کړي، ولي ملکي کسان  به څه ډول پوځي چورلکه هغه هم روسی چورلکه وکاروي، او پکي ناست خلک هم متقاعد د پوځ جنرالان دي، چي ويل کيږي اوسمهال هم دکار کولو قراردادونه لري.
ازره مهم ځای دی، د لوګر ولايت د ولايتي شورا وکيل ډاکټر عبدالولي وکيل ويلي چي د داعش په نوم چې کومې لومړنۍ ويډيوګانو په رسنيو کې خپرې شوې هغه په ازره کې جوړې شوې وې، هغه څو مياشتې مخکې اندېښنه ښودلي وه چې ازره بياځل د داعش په مرکز بدليږي.
د پنجاب چورلکي تخنيکي ستونزه، د افغان دولت څرګندوني
د چورلکي اړوند په تخنيکي برخه کې په کورنيو ټلويزونو او خواله رسنيو کې ډير څه ويل شوي او ليکل شوي، زه په دي برخه کي زيات څه نه ليکم، ولي څو پوښتني دي چې چاروالو او په لوبه کې ښکيل کسانو ته متوجه کيږي:
زبير شفيقي د ويسا ورځپاڼي مشر وايي چې : افغان حکومت لوبه کې شريک يا داچې سترګې يې مړې دي چې زغرده خبره د پنجاب چورلکي د پيښې اړوند  نه کوي.
شفيقي وايي چې :  د دفاع وزارت وياند وزيري وويل چې پاکستان ته  د يوي الوتکې اجازه ورکول شوي وه، موږ به څيړنه وکړو چې دا هم هغه چورلکه ده يا بله؟  دا خبره څپله سوالونه پيداکوي. او بيا وروسته يې هغه ډول څرګندوني وکړې کوم چې پاکستاني رسنيو ويل.
پوځي کارپوهان وايي چې پرته له څار څخه څه ډول د پنجاب چورلکي ته اجازه ورکول شوه، څکه هغوی کولای شي عکاسي وکړي، هرځای ناسته کولای شي چې له خلکو سره ليدني وکړي، او هرځای کولای شي چې وسلوالو ته څه ورکړي (کوم چې اوس هم ويل کيږي چې پيسي، يونيفورمونه ، موبايل او ستلايټ ټليفونونه په چورلکه کي نيول شوي).
کله چې چورلکه د ازبکستان پرځای د ازرې لورته روانه شوه، ولي د افغان رادار هوايي قومنداني ته خبر ورنه کړ؟ او يا ولي امريکا اوناټو د فضاء د څار ادارو داخبر له افغان دفاع وزارت سره شريک نه کړ؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د دفاع وزارت، هوايي قومنداني پرځای ولي ويل کيږي چې اجازه د ملکي هوايي چلند وزارت ورکړي وه. او مهمه داچې روسی پيلوټ له کومه وخته د پاکستان د همدې چورلکې پيلوټ دی، داسي خو به نه وي چې  نيول شوی روسی پيلوټ امريکايانو ورته ورکړی وي؟
که چورلکي تخنيکي ستونزه درلودله، نو بيا خو به پکې تخنيکي انجنيران ناست وای، بيا د پاکستان د پوځ او استخباراتو متقاعد جنرالانو پکې څه کول؟
تر څو چې په افغانستان کې له ميشت امريکايانو څخه اجازه نه وی اخيستل شوې، د هغوی له اجازې پرته  نه خو افغان دفاع وزارت او نه هم بهرنيو چارو وزارت او نه هم د ملکي هوايي چلند وزارت پاکستانی چورلکې ته اجازه ورکولای شوای.
که دا ومنل شي چې افغان حکومت د پنجاب چورلکې ته اجازه ورکړي ده، بيا يې ولي دهغي ساتنه ونه وکړه، او ولي يې د هغې د مسير د خطاء کيدو په وخت څه ونه ويل؟ که داسي وي بيا نو افغان حکومت د  همدې پيښې مسؤل ګڼل کيږي. بيا خو په کار ده چې ددې پرځای چې پاکستان له طالبانو سره اړيکه نيسی له افغان حکومت څخه د خپلو خلکو د مصؤن غوښتلو او خلاصون ته انتظار وکړي؟ بيا کومه اړتيا ده چې پاکستان مخامخ له طالبانو سره اړيکې نيسي؟ ويل کيږي چې دوه چورلکي وې،  د بلې اړوند اوس هم معلومات نشته؟
پيچلې موضوع ده، که طالبان سم سياست ونه کړي، کيدای شي ډير زيان وکړي، پخوا  هم طالبانو نيول  شوې ترکان  او روسی پيلوټ خوشي کړي، داځل هم ممکن د پاکستان نيول شوې کسان خوشي کړي، ولي داچې څه ډول به يې خوشي کوي، هغه څه دي چې د طالبانو لپاره چيلنج دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ